مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۱/۰۱

# وختونه خو بدلیږي

د ګران انجنیر صاحب سلطان جان کلیوال د هغه شعر په جواب کي چي د نوي ۲۰۲۴ کال په مناسبت یي لیکلی دی او وایی:

وختونه خو بدلیږي ته بدلیږې او کنه؟
کاږه کاږه سمیږي ته سمیږې او کنه؟

ضمناً ګران کلیوال ته د عاجلي روغتیا دعا کوم او تاسي هم آمین راسره وکړی.

وختونه به بدلیږي خو افغان به بدل نه سي
په شپې پسي د بلي شپې داستان به بدل نه سي
پنځه زره کلونه دی خوبونو زنګولی
په شرنګ د الاهو نشه انسان به بدل نه سي
لا ویني پر لکړه د زانګو ماشوم خوبونه
چي خدای نه وي لوی کړي ماشومان به بدل نه سي
په روڼو سترګو سمه لاره پرېږدي ځي کوهي ته
له جهل سره کړی یې پیمان به بدل نه سي
پخپله یې شلولې له ساحل سره دوستي ده
ازل یې به نصیب کښلی توپان به بدل نه سي
د شیخ د محتسب او د مُلا په دام کي ګیر دی
د تور جادو ځنځیر دی دا زندان به بدل نه سي
په زر کاله یې یو قدم پر مخ نه دی اخیستی
مُلا به بدل نه سي او چریان به بدل نه سي
د جهل او تیارو لار یې پخپله ده اخیستي
د لمر د سپینو وړانګو غلیمان به بدل نه سي
کیسو د پاني پټ او اصفهان دی غولولی
د خیال په زغرو مست دی پهلوان به بدل نه سي.

د ۲۰۲۴ کال د جنوري لومړی ورځ، ویرجینا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ